

ژباړه او ترتیب : عبدالحق ثاقب ″هزارناوی″

# اسلام او جنډر

د اسلام له پیله او آن تر دې دمه د تاریخ په اوږدو کې د اسلام دښمنانو، او په ځانګړې توګه یهودو او نصاراوو، تل هڅه کړې چې داسلام پر ضد عملیات ترسره او د اسلام د له منځه وړلو لپاره بېلا بېلې دسیسې جوړې کړي . او په دې برخه کې یې ګڼ فعالیتونه هم کړي دي. هغوی په دې لاره کې له بېلا بېلو لارو څخه کار اخیستی دی، کله چې دوی د پوځي لارې له ناکامۍ سره مخامخ شول نو فکري جنګ ته یې مخه کړه . په فکري جنګ کې د اسلام دښمنانو له مختلفو لارو کار واخیست ، او بېلا بېل نظریات او افکار یې رامنځته کړل . او ددې فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره یې مؤسسې او ټولنې جوړې کړي چې شپه او ورځ په کار بوختې دي او په اسلامي ټولنو کې د خپلو نظریاتو د خپراوي لپاره کارکوي . په اسلامي ټولنو کې هم ډېر داسې کسان چې د خپل دین اسلام په اړه یې کافي مالومات نه درلودل ، ددوی نظریاتو ته یې هرکلی ووایه او ملاتړ یې ورڅخه وکړ. په دې کار سره د اسلام دښمنانو ته په اسلامي ټولنو کې پرمختګ آسانه او په سختو لارو کې یې ځانونو ته ملګري او ملاتړي پیدا کړل . دوی خو یا پوهېدل او یا یې د مادي ګټو په خاطر ځانونو په ناپوهو کې حساب کړل، او د دې نظریاتو پلوي یې وکړه او ددښمن له کاروان سره یوځای شول .

هغه څوک چې ددې نظریو په اساس امر دي، د لویانو په خطرباندي پوهېږي، د مسوولیت نه چې ددې نظریاتو حقیقت راڅرګند او د پلویانو خطر او شومو اهدافو ته یې اسلامي ټولنه متوجې کړي .

د ښځو د آزادۍ موضوع په اروپا کې هغه مهمه موضوع وه چې لویدیځوالو ورته د تېرې پېړۍ په پیل کې کار پیل کړ، دا موضوع د وخت په تېرېدو سره ډېره پراخه شوه ، دا نظریه لومړی په دې پیل شوه چې ګویا ښځه په مزد کې له سړي سره باید مساوي وي، خو بیا وروسته دوی یوازې په دې بسنه ونه کړه، او دعوی یې لا لویه شوه. او په ټولیزه توګه یې ښځې په هر څه کې له نارینه وو سره مساوي وګڼلې.

ژباړه او ترتیب : عبدالحق ثاقب ″هزارناوی″

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نظریه د پیل په لومړي وخت کې اسلامي نړۍ ته را ننوته ، او په مصر کې ورته ځینو خلکو تود هرکلی وکړ . د مصر په هېواد کې ددې نظریې د خپراوي سره سم، و د قاهرې په اسماعیلیة میدان کې ښځو یوه لویه مظاهره وکړه ، او حجاب ته یې اور واچوه . د غربي نړۍ دا لړۍ نورو اسلامي هېوادونو ته هم وغزېده او په ډېره ښکاره توګه یې د جنډر، ټولنیز ډول او نورو افکارو ته دعوت پیل او لویې غونډې او کانفرانسونه یې دایر کړل .

د ( جنډر ) نظریه هم ددې لړۍ یوه کړۍ ده چې د ښځو د حقونو په پرده کې ورته کار کوي . دوی هڅه کوي چې د خپلو نظریاتو لپاره دعوت په بله جامه کې پرمخ بوځي . دوی دا نظریات په ډېرو اسلامي ټولنو کې خپاره کړل، او په پراخه پیمانه یې ورته پلویان پیدا کړل. ددې نظریې د خپراوي لپاره یې په نړیواله کچه کانفرانسونه دایر کړل او همدا راز رسنیو هم په لویه کچه ددې نظریاتو په خپراوي کې خپل رول ولوباوه .

دا چې جنډر څه مانا لري ؟ دا نظریه له کومه راپیل شوه ، موخې یې څه دي ؟ او اسلام ددې نظریې په اړه څه وایي ؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې لیکنه کې به ځواب شي :

## د جنډر مفهوم :

جنډر د لغت او مفهوم له پلوه د نارینه یا ښځینه په حیث د یو کس جنسي هویت دی.

جنډر یوه غربي فلسفه ده چې د ټولنیز ډول په مانا هم راځي او په ټوله نړۍ کې ورته د ښځو ټولنې او مؤسسې لمن وهي.

د روغتیا نړیوال سازمان جنډر داسې تعریفوي : د جنډر اصطلاح د نارینه او ښځینه هغه ځانګړ تیاوې بیانوي چې ټولنې ورته ورکړي وي.دا ځانګړتیاوې د بدن د غړو د اختلاف پورې هیڅ تړاو نه لري. دا په دې مانا که په عضوي لحاظ یو انسان ښځه وي یا نارینه وي،خو د ټولنې د کلتور محدودیتونو ښځې ته جلا ځانګړنې ورکړي او نارینه ته جلا. دوی وایې چې ښځه ځکه ښځه ده چې ټولنې ښځه کړې، او نارینه ځکه نارینه ده چې د ټولنې کلتور نارینه کړی.

نو له دې تعریف څخه راڅرګندیږي ، چې کېدای شي سړی ښځه شي او ښځه سړی . چې په وینا یې بیا ښځه کولی شي چې له ښځې سره واده وکړي ( له خپل همجنس سره ) که کله ښځې یا نارینه دا کار وکړي، نو په واقعي مانا به نارینتوب او ښځینتوب له منځه تللی وی او دواړه به سره یو برابر وي.

د جنډر فلسفه وایي چې ټولې هغه دندې چې ښځه او نارینه یې ترسره کوي،ددوی ترمنځ ټول توپیرونه ، او آن ددوی افکار، او د نارینه او ښځینه په حیث د خپلو ځانونو په اړه ددوی نظریات ، چې ګویا نارینه خپل ځانته د نارینه په سترګه ګوري او ښځې ته د ښځې په سترګه ، او ښځینه خپل ځان ته د ښځې په سترګه ګوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارینه ته د نارینه په سترګه، دا ټول د ټولنو او دهغوی د کلتور د محدودیتونو زیږنده ده. دا په دې مانا چې ددې ټولو دندو تقسیم یانې ښځې د ځانګړیو کارونو پورې محدودول او نارینه د ځانګړیو دندو پورې محدودول د ټولنو د کلتور پر اساس ترسره کیږي، او دا محدودیتونه هر وخت د بدلېدو وړ دي. یانې نارینه دا توان لري چې دښځو ټول کارونه ترسره کړي ، او ښځې کولی شي چې د نارینه وو ټول کارونه ترسره کړي. او دا شونې ده چې د خپل ځان او ښځې په اړه د نارینه فکر ، او د خپل ځان او نارینه په اړه د ښځې فکر بدل کړو . دا په دې اساس چې داټول تقسیمات او د دندو سپارنه او محدودول یوه ټولنه په ماشوم کې د ماشومتوب پر مهال پیدا کوي، او کېدای شي د ځانګړو سیاستونو د پلي کولو په نتیجه کې دا بدل کړو .

له پورتني تعریف څخه دا مالومیږي چې د جنډر فلسفه پر دې سترګې پټوي چې ګویا بیولوژیکي فطري توپیرونه د ښځو او نارینه پر دندو اغېزې کوي. دوی پر دې سترګې پټې کړي چې نارینه ځانګړی بیولوژیکي او هرموني ځانګړ تیاوې لري ، او ښځې ځانګړی بیولوژیکي او هرموني ځانګړ تیاوې لري. او ښځینه هرمون چې کومې ځانګړ تیاوې لري د نارینه له هرمون سره توپیر لري .

ددې فلسفې پلویان پر بیولوژیکي ځانګړ تیاوو سترګې پټوي. نو کله چې دوی د ښځینه او نارینه هرمون ترمنځ توپیر ردوي، نو په همدې اساس د هرې دندې په ترسره کولو کې د ښځې او نارینه توان هم یو برابر بولي.

دوی دا نه مني چې بیولوژیکي توپیرونه د ښځې او نارینه په سلوکو کې جلا جلا اغېزې لري . ددې فلسفې پلویان په دې اند دي چې نارینتوب او ښځینتوب هغه څه دی چې ښځه او نارینه په خپله احساس کوي . او په دې سره نارینه دا حق لري چې دښځو کارونه او خویونه ترسره کړي، چې په دې کې داهم راځي چې نارینه کولی شي له نارینه سره واده وکړي ، او ښځې دا حق لري چې د نارینه وو خویونه او سلوک په ځان کې پیدا او ترسره یې کړي ، او په نتیجه کې ښځې ته دا جواز ورکوي چې له هر چا یې چې خوښه وي اولاد پیدا کړي، او له هر ډول قید او محدودیته یې وباسي. نو دلته مالومیږي چې د جنډر فلسفه هڅه کوي چې کورنۍ نظام له منځه یوسي. او د ښځو په ډېرو نړیوالو کانفرانسونو کې دا یادونه شوې چې باید په مختلفو شکلونو کورنۍ تشکیل شي ،نو ددوی په اند دا هم شونې ده چې له دوه نارینه وو یا له دوه ښځو یوه کورنۍ تشکیل وي، او کېدای شي یوه کورنۍ له یوې ښځې او اولاد چې له زنا پیدا شوي وي تشکیل شي . دوی دا آواز پورته کړ چې باید جنسي انحراف ته باید یوه طبیعي بڼه ورکړل شي .

خو خلاصه خبره دا ده چې د جنډر فلسفه د نارینه او ښځینه ترمنځ یو بل ته د پوره ورته والي ادعا کوي ،دا فلسفه ددوی ترمنځ هر ډول توپیر ردوي ، د جنډر د نظریې خاوندان په دې اند دي چې :

ژباړه او ترتیب : عبدالحق ثاقب ″هزارناوی″

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا چې ښځې د کور کارونه ترسره کوي او ورته پاملرنه کوي ، د ښځو پر وړاندې يو ډول سپکاوی او ظلم دی .
- دا ظلم دی چې د اولاد روزنه او څارنه د ښځو اساسي دنده ګڼل کيږي .
- ښځې کولی شي چې د نارينه وو ټول کارونه ترسره کړي ، او همدا راز سړی دا توان لري چې د ښځو ټول کارونه ترسره کړي .
- کورنۍ يو تقليدي او دستوري چوکاټ دی ، او بايد دا چوکاټ ونړول شي.
- انسان حق لري چې خپل هويت ته بدلون ورکړي ، او خپل اړونده دندې بدلې کړي .
- کالي ( لباس )د يوې ناکامې او غلطې ټولنې په رامنځته کولو کې مهم رول لري.

## د جنډر د نظريې تاريخچه :

د تېرې پېړۍ د اوومې لسيزې دپای راهيسې ددې نظريې د مفاهيمو په اړه اختلافات راپورته شول ، ددې نظريې د خپراوي لپاره لومړی تبليغ د اروپا او امريکا څخه راپيل شو ، همدا راز په پرمخ تلليو هېوادونو کې ددې نظريې د پلويانو اهداف هم روښانه وو . ددې نظريې لپاره ځينې نړيوال کانفرانسونه هم داير شول ، دبېلګې په توګه يې له څو يادونه کوو :

- د قاهرې کانفرانس ، کال ۱۹۹۴ ميلادي .
- د بيجينګ کانفرانس ، کال ۱۹۹۵ ميلادي .
- د بيجينګ کانفرانس ، کال ۲۰۰۰ ميلادي .
- د ښځې په اړه يو کانفرانس په ۲۰۰۰ ميلادي کال کې د ښځو چارو يو مرکزد يمن په صنعاء پوهنتون کې داير کړ .
- د عمان کانفرانس ، کال ۲۰۰۱ ميلادي .

ددې کانفرانسونو او فعاليتونو موخې هم روښانه وې ، دوی غوښتل چې له دې لارې د نارينه او ښځينه وو ترمنځ ټولو توپيرونه له منځه يوسي، او ختيځ اسلامي هېوادونه يې تورن کړل چې دوی د جنسي کلتور او ثقافت له پلوه ډېر وروسته پاتې هېوادونه دي، او اسلام يې پر دې تورنولو چې ګويا اسلام پر ښځو ظلم کړی او له حقونو يې بې برخې کړي ، پر وينا يې اسلام ښځې د بنديانو په څېر ساتي او د آزادۍ حق يې ترې اخيستی . خو ځينو غيرتي مسلمانانو ددا ډول نظرياتو په خلاف غبږ پورته کړ او پر ضد يې مبارزې پيل کړې ، او ددې غربي فلسفې فساد او بدې پايلې څرګندې کړې . او همداراز په ځينو اسلامي هېوادونو کې يې د ښځو چارو ځينې مرکزونه هم وسپځل چې غوښتل يې ددې غربي او فاسدې فلسفې او دې ته ورته د نورو ناوړه اخلاقو د خپراوي لپاره يې په اسلامي نړۍ کې هلې ځلې کولې .

ژباړه او ترتيب : عبدالحق ثاقب "هزارناوی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنډر فلسفه یوه غربي او فاسده فلسفه ده !

خو د پوښتنې ځای دا دی ! د بېلګې په توګه که ښځه له سړي سره مقایسه شي نو د ټټارۍ ( آهنګري ) د موټرو مستري توب ، د سکارو په کانونو کې کار کول ، بار وړونکي موټرونه چلول او دې ته ورته د نورو کارونو په ترسره کولو کې به نسبت سړي ته د ښځو توان او قدرت څومره وي ؟ یا له بل پلوه ، د شیدو خوړونکو ماشومانو روزنه او پاملرنه ، په وړوکتونونو کې د ماشومانو څارنه او روزنه او دې ته ورته د نورو کارونو په ترسره کولو کې به نسبت ښځو ته د نارینه وو توان او قدرت څومره وي ؟ !!!

د جنډر فلسفه یوه غربي او ښځینه فلسفه ده او په مکمله توګه له علم او عقل او ساینس سره په ټکر کې ده ، دا باید یاده کړو چې دا فلسفه په علمي اساساتو نه ده ولاړه ، بلکې دا یوه خیالي فلسفه ده او د نوي او معاصر علم څخه په مکمله توګه مخالفه ده ، نوموړې فلسفه د نارینه او ښځینه ترمنځ د توپیرونو د له منځه وړلو او ردولو لپاره کوم منطقي او علمي دلایل نه لري ، او داسې کوم ضمانتونه هم شتون نه لري چې ګویا ددې فلسفې پلې کېدل به مثبتې پایلې ولري ، ددې نظریې فساد او خطر په دې کې رانغښتی دی چې ددې فلسفې پلویان غواړي دا په نړیواله سطحه پلې کړي .

### د پوښتنې ځای :

د حیواناتو په نړۍ کې ځینې ټکي :

- په اسپانیا کې غوایان په خپلو منځونو کې په غېږه وروړل کیږي ، نو ولې غواګانې په غېږه نه وروستل کیږي؟
- د آسیا په جنوب ختیځ هېوادونو کې چرګ له چرګ سره جنګول کیږي ، خو ولې چرګانې سره نه جنګوي ؟
- د تي لرونکو حیواناتو په نړۍ کې چې په رمو کې ژوند کوي ، ولې ډېری وختونه نارینه مشري کوي ، نه ښځینه ؟
- د حیواناتو په نړۍ کې د ښځینه او نارینه حیواناتو رولونه ثابت دي او که بدلیږي ؟

### ساینسي تجربې :

د انسان پر خلاف ، کله چې موږک پیدا شي ، نو له پیدایښته وروسته یې ماغزه پوره کیږي یا تکامل کوي ، خو انسان چې کله پیدا شي نو ماغزه یې لا پخوا د حمل په دوران کې پوره کیږي. او دې حقیقت ساینس پوهانو ته دا فرصت ورکړی چې دوی په اسانۍ کولی شي چې د مغزو د پوره والي او پرمختګ په برخه کې تجربې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. کله چې يو نارينه موږک ته د هغه د ماغزو د ودې او تکامل ( پوره کېدو ) پر مهال د ښځينه موږک هرمونونه ورکړل شي ، نو ګورو چې هغه موږک وروسته د ښځينه موږکانو کارونه کوي، او کله چې ښځينه موږک ته د هغې د مغزو د ودې پرمهال د نارينه موږک هرمونونه ورکړل شي نو بيا دا موږک د نارينه موږک کارونه ( تصرفات ) کوي .یانې هرمونونه کولی شي چې د نارينه او ښځينه موږک په کړنو کې بدلون راولي .

دا او دېته ورته نورې تجربې د انسانانو د سلوکو ځينې رازونه راښکاره کوي.ساينس پوهانو ته دا ثابته شوه چې نارينه جلا ماغزه لري او ښځينه جلا ماغزه لري . او نظر د ماغزو ډول ته د انسان فکر ، رويه او ميلان توپير کوي . او ساينس پوهان دې نتيجې ته رسېدلي، که د حمل په موده کې د انسان د مغزو د پوره کېدو پر مهال دهغو په هرمونونو کې کومه ستونزه راپيدا شي، نو ددې سبب ګرځي چې ځينې وختونه نارينه پيدا شي خو هغه ښځينه ماغزه لري، يا ښځينه پيدا شي خو د نارينه ماغزه لري . خو دا حالت ډېر کم پېښيږي .

د هرمونونو ځينې ځانګړ تياوې :

**سختي** : نارينه هرمونونه ډېره سختي لري، خو ښځينه هرمونونه بيا داسې نه وي .

**پر ځان باوري** : نسبت ښځو ته په نارينه هرمونونو کې پر ځان باوري زياته وي .

**جنسي تنوع** : د نارينه هرمونونه ډول ډول جنسي ميلان لري. خو په مقابل کې د ښځو هرمونونه داسې نه وي .

**قوت او توان** : نارينه هرمون د قوت او تشدد هرمون دی ، او دا هرمون نسبت ښځو ته په نارينه وو کې لس برابره زيات دی .

## اسلام د جنډر په اړه څه وايي ؟

له تېر بحث څخه دا راڅرګنديږي چې د جنډر د نظريې پلويان وايي چې :

- ښځه کولی شي چې ځان له نارينه وو سره تشبيه کړي ، او سړي له ښځو سره .

په دې کې هيڅ شک نشته چې دا يوه کبيره ګناه ده، او د اسلام سپېڅلي دين دا کار حرام کړی دی ، هغه ښځه چې ځان له نارينه وو سره تشبيه کوي ، د نارينه وو جامې اغوندي، ويښتان د نارينه وو په څېر جوړوي، له نارينه سره مختلط او ګډ ژوند کوي او هغه نارينه چې ځانونه د ښځو په څېر جوړوي، په کاليو او لباس کې ورسره تشبيه کوي ،پر داسې کسانو محمد صلی الله عليه وسلم لعنت ويلی دی :

د ابو هريرة رضي الله عنه حديث دی وايي چې محمد صلی الله عليه وسلم پر هغه سړي لعنت ويلی چې د ښځو کالي اغوندي ، او پر هغو ښځو يې لعنت ويلی چې د نارينه وو کالي اغوندي .

ژباړه او ترتيب : عبدالحق ثاقب "هزارناوی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دی ، هغه فرمايې چې نارينه چې د ښځو سره ځانونه تشبيه کوي ، او هغه ښځې چې د نارينه وو سره ځان تشبيه کوي ، پر هغوي محمد صلی الله عليه وسلم لعنت ويلی دی .

نو ددې ، او دېته ورته د نورو حديثونو په رڼا کې ويلی شو چې د جنډر پلويان غواړي چې داسې يوه ټولنه رامنځته کړي چې پر هغې د الله او د رسول لعنت وي . او هر څوک چې ځان ته مسلمان وايې ، هغه که نارينه وي او که ښځينه ، نه غواړي چې د الله او دهغه د رسول باندې اخته شي .

- د جنډر پلويان وايې چې ښځه په مطلقه توګه د سړي سره مساوي ده .

د اسلام سپېڅلي دين د ښځو لپاره ځانګړي احکام ايښي دي ، او د نارينه وو لپاره جلا . نو کله چې د اسلام سپېڅلی دين د ښځو لپاره د حجاب ، استئذان ( اجازې ) خلوت،د نا محرمو نارينه وو سره سفر کول ، ګواهي ورکول ( شهادت ) ، اختلاط او د ميراث حق  او داسې نورو برخو کې ځانګړي احکام ايښي دي، خو له بل پلوه بيا د جنډر فاسده فلسفه دا ډول احکام ټول تر پښو لاندې کوي. او په دې کې هيڅ شک نشته چې دا کار د اسلام د احکامو څخه په مکمله توګه يو خلاف کار دی او ټولنه د انحراف او فحشاء پر لورې بيايې .

- د جنډر له فلسفې مالوميږي چې نارينه پر ښځو هيڅ قوامت نه لري .

د جنډر فلسفه وايې چې دښځې څه خوښه وي ، هغه دې کوي ، ښځه په خپل کار کې خپلواکه ده او هيڅوک دا واک نه لري چې منعه يې کړي . خو الله جل جلاله فرمايې ( الرجال قوامون علی النساء ) نارينه پر ښځو قوامت لري لري . تاسو پرېکړه وکړئ چې د جنډر پلويان سم وايې ، او که الله جل جلاله ؟ کله چې نارينه پر ښځو واکمني  او قوامت لري ، نو کله بيا دوی دواړه سره مساوي کېدای شي ؟ !!! په دې ځای کې د جنډر فلسفه په څرګنده او مکمله توګه د اسلام د سپېڅلي دين سره په ټکر کې ده .

کله چې مونږ د جنډر د فاسدې فلسفې اهداف ياد کړل،نو ددې نظريې په اړه د اسلام حکم راڅرګنديږي، اسلام په ښکاره وايې چې دا يوه فاسده او فاحشه نظريه ده، دا نظريه غواړي اسلامي ټولنه له فحشاء او بدکارۍ ډکه او د خدای او د رسول د لعنت وړ يې وګرځوي . دا نظريه غواړي چې کورنۍ، د ښځې او خاوند ترمنځ نېکې اړيکې ويجاړې او له منځه يوسي. نو په دې اساس دا جواز نه لري چې ددې نظريې د خپراوي لپاره هڅې وشي او په اسلامي ټولنو کې رواج شي.  الله جل جلاله د النور سورت ۱۹ آيت کې فرمايې :

{إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ} هغه کسان چې دا خوښه ګڼي چې د مسلمانانو په منځ کې فحشاء خپره کړي ، دوی ته په دنيا او آخرت کې دردناک عذاب وي، الله ډېر ښه پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ .

ژباړه او ترتيب : عبدالحق ثاقب ″هزارناوی″

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د جنډر فلسفې غوښتونکیه ! ایا دا خوښه ګڼې چې ټولنه له فحشاء ډکه او دنیا او آخرت دې برباد شي !

پای

ژباړه او ترتیب: عبدالحق ثاقب "هزارناوی"

http://www.islamnoon.com/Motafrkat/gender.htm

http://islamselect.net/print/10832

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**